۴ -په زړه پورې خو دا ده چې هندوانه يوازېنۍ مېوه ده چې د نورو مېوو او سبزيو په پرتله په زياته پيمانه (بتاکاروتن لري)

۵ -هغه مواد لکه الکترولیت، سوډيم او پوتاشيم چې ډېر کله يې له بدن څخه د خولې له لارې له لاسه ورکوو، يوازې د هندوانې په خوړو سره يې بېرته پوره کولی شو.

٦ -هندوانه د ويټامين بي منبع هم ګڼل کېږي چې د حياتي انرژۍ لپاره اړين دی. د تغذيې د برخې متخصصين او څېړونکي په دې اند دي چې د بدن لپاره د ويټامين بي يو، ويټامين بي دوه او مګنيزيمو د لاسته راوړلو لپاره آسانه لار د هندوانې خوړل دي. هندوانه ۹۰ په سلو کې اوبه لري او د کالوري ارزښت يې تر ټولو مېوو لوړ دی.

۷ -دا چې هندوانه په زياته کچه ويټامين، پوتاشيم او مګنيزيم لري نو د ناروغيو پر وړاندې د بدن مقاومت دوه برابره کوي.

۸ -هندوانه غوړ نه لري، خو د انرژۍ په توليد کې پوره مرسته کوي او نه پرېږدي چې د بدن د کومې برخې سلولونه تخريب شي، کوم چې تخريب شوي او له منځه تللي په بيا رغولو کې يې مرسته کوي.

د اوړي په ګرمو شپو او ورځو کې د تندې د له منځه وړو او د بدن د اوبو پوره کولو لپاره د هندوانې ځای يوه مېوه هم نه شي نيولی.

سرچينه: روهي ويب پاڼه

مسلمانانو مه نا اميده کېږئ

د ا سلام پر ضد دغه روانه جګړه په دې خبره زمونږ اعتماد له منځه نشي وړلی چې ((راتلونکی دور د اسلام د واکمنۍ دور دی)).

ا سلام په خپل اوږد ژوند کې ددې څخه هم د سختو حالاتو مخې ته کلک ودرېدلی او مقابله يې کړې ده، سره له دې چې د اسلام سره د خپل ذاتي قوت پرته بل هېڅ قوت هم نه ؤ، خو بيا يې هم کاميابي لاسته راوړې او په نړۍ کې يې خپل ځان ساتلی دی، او هغه ډلې او هېوادونه يې هم ساتلي د کوم ساتنه چې ا سلام ته ورپه غاړه وه، په داسې حال کې چې هغوی هم د وسلو څخه خالي وو.

اسلام هغه قوت دی چې په ختيځ کې يې اسلامي وطن د تاتاريانو او صليبيانو د بريدونو څخه وژغورلو، که چېرې صليبيان په ختيځ کې داسې بريالي شوي وی لکه څرنګه چې پخوا په اندلس کې بريالي شوی وو يا يهوديان چې اوس وخت کې په فلسطين کې بريالي شوي دی نو نه به عربي قوم پاتې وی نه عربي جنس او نه عربي هېوادونه. پخوانی اندلس او اوسنی فلسطين دواړه ددې ګواه دي چې کله هم اسلام د يوې زمکې څخه وشړل شي نو هلته د اصلي جرړې د ويستل کېدو وروسته نه ژبه روغه پاتې کېږي او نه قوم. (سيدقطب رحمه الله).

ژوند

د يوې چينې او به دي، څوك يې د زرو په جام کې څښې، څوك يې د خاورو په کنډولي کې.

هغه چې نه دا لري نه هغه، په لپه کې يې را اخلي .

په اوبو کې هېڅ فرق نشته، فرق په لوښو کې دی .

د شاه او ګدا فرق په لوښو کېږي.

د اوبو په خوند هغه څوك پوهېږي چې ډېرتږی وي .

هغه لاروی، چې له بيديا نه ستړی ستومانه راځي او تنده يې ډېره زياته ده، دا اوبه ډېر خوند ورکوي .

هغه دهقان چې په سره غرمه کې يوې کوي او خولې پرې راماتي دي دا اوبه د هغه د پاره ډېر لوی نعمت دی.

يو شپون چې له غره نه تږی راکوزېږي او په چينې باندې خوله ږدي د اوبو په خوند ډېر ښه پوهېږي.

يو بل سړی چې يخ سيوري ته په آرامه چوکۍ ناست دی، ښايسته صراحي يې له څنګه ايښې ده او په ښو ګيلاسونو کې اوبه څښې له اوبو نه هغه خوند نشي اخيستلی.

هو! ده دلارويو او شپنو تنده نه ده ليدلې .

په سره او ټکنده غرمه کې يې لو نه دی کړی، ځکه هغه تلوسه په ده کې نشي پيداکېدای.

چا، چې لوږه او تنده نه ده ليدلې، هغه د خوړو او اوبو پوره خوند هم نه دی لېدلی او د ژوند په کيف نه دی پوه شوی. (ګل پاچا الفت).

د شهید مولوي حبیب الرحمن په یاد:

د کور دروازه یې بنده شوه، خو د قربانۍ دروازه یې د تل لپاره خلاصه کړه

لیکنه: قاضي فیضان الله فیصل

لکه څنګه چې په نړۍ کې انسانان په خپلو منځو کې مختلف افکار او رنګ رنګ نظریې لري، د غه شان د دوی د ژوند تګلارې هم مختلفې وي! د ځینو اهداف د خپلو نفساني غوښتنو له دایرې نه وځي، ګېډه او شهوت یې وروستی هدف وي، خو ځینې بیا تر دې ټولو هاخوا داسې ستري موخې لري چې د میلیونونو ککریو د ساتنې دنده تر سره کوي. هغه څوک چې په اسلام کې پېدا او لوی شي او غواړي چې په اسلام کې مړ شي، د دغو خلکو هدف هم ډېر پاک او ستره وي، دغسې خلکو سره په دنیا کې د ژوند تېرولو تر څنګ د الله پر زمکه د الله تعالی د دین د غلبې او حاکمیت فکر وي او کله چې موږ د دین د حاکمیت خبره کوو د هغه دین نه تعرف کوو چې هغه د اسلام مبارک دین دی چې د ژوند ټولو اړخونو ته شامل او هر وخت د انسانانو اړتیا وو ته ځواب ورکوونکی دی چې دغه ستر هدف ته د رسېدو لپاره رښتینی مسلمان، هو ښیار دعوتګر او د خدای د لارې مجاهد ته ضرورت لیدل کېږي چې د هر وخت او شرایطو سره دین او خپلې خاورې ته ګټور ثابت شي چې بې له شکه دغه ستر هدف ته ځان رسول او په دې لاره تلل اسانه کار هم نه دی.

دا لاره قوي ایمان او متعهد لارویان غواړي

شهید استاذ مولوي حبیب الرحمن د افغانستان د اسلامي نهضت یو تن بنسټګر چې د وخت ناخوالو، فساد او فکري بې لاریو او د دیني مقدساتو ته سپکاوي او تر دې هاخوا د هېواد او خلکو د غم احساس یې له لومړۍ ورځې په سر کې ځای ونیوه او کله چې د ننګرهار نجم المدارس مدرسې نه په لومړۍ درجه فارغ شو او د کابل په امام ابوحنیفه مدرسه کې د استاذ په حیث مقرر شو، له هغو خلکو سره یې لیدنې او ناستې پیل کړې چې له دغو نا خوالو سره د مقابلې هیله ترېنه کیدای شوه، تر دې پورې چې د کابل پوهنتون شرعیاتو پوهنځي کې شامل شو او په پوهنتون کې له یو شمېر استاذانو او ځوانانو سره یې د جوانان مسلمان په نوم د اسلامي نهضت بنسټ کېښود.

شهید استاذ مولوي حبیب الرحمن له همدې ځایه د اسلامي نهضت له نورو مشرانو سره یو ځای د دعوت مبارزه پیل کړه او په ډېر اخلاص یې له اسلامي نهضت سره د نورو خلکو د یوځای کېدو او نورو سیمو او ولایاتو ته د دعوت د خپرېدو هڅې پیل کړې.

تر دې پورې چې کله به پوهنتون رخصت هم شو، مولوي صاحب شهید به په رخصتۍ کې هم کور ته نه راته او په خپلو دعوتي کارونو کې به مصروف ؤ چې کله به کورته راغی نو درې ورځې به یې تېرې کړې بیا به له کوره په خپلو دعوتي کارونو پسې ووت، او کله به یې چې مور، پلار او د کورنۍ د کوم بل غړي له خوا ورته وویل شول چې په کور کې لږه زیاته موده تېره کړه، نو مولوي صاحب شهید به ورته ځواب وکړ چې موږ داسې یو ستر کار ته لاس اچولی چې په کور کې کینو نو د لوی کور (افغانستان) بنسټونه به مو وران شي.

د اسلامي نهضت د پیل مرحله دومره سخته او له ستونزو نه ډکه وه چې د همدغسې مخلصو دعوتګرو او مبارزینو ډېرو هڅو ته یې ضرورت درلوده.

مولوي صاحب د خپلو اکثره ملګرو په منځ کې چې د عمر او علم په لحاظ ترینه مشران وو، خو مولوي صاحب به د کشر ملګري نه ځان کشر ګاڼه د ډېرو اوچتو اخلاقو خاوند ؤ چې سړي به ورسره په یو ځل مخامخ کېدو او یو ځل نا ستې سره متأثر کېدو، د یو رښتیني دعوتګر ټول مواصفات په کې ؤ.

مولوي حبیب الرحمن شهید د خپل پلار مشر زوی ؤ، نو کله چې د چا مشر زوی دې مرحلې ته ورسېږي چې تعلیم او تحصیل یې بشپړ کړی وي او په کومه وظیفه هم مقرر شوی وي، نو بې له شکه چې پلار او ټوله کورنۍ یې ډېره خوشحاله وي او دا تمه ترېنه کېږي چې د کور په مسؤولیتونو او کارونو کې له پلار سره اوږه ورکړي او خپل معاش کورته راوړي.

نو همدې ټکي ته په کتلو سره د شهید مولوي صاحب پلار کیسه کوله چې یو ورځ مولوي صاحب د کابل نه راغی، دا په داسې حال کې ؤ چې شهید مولوي په کابل پوهنتون کې د استاذ په حیث او د ګذرګاه په سیمه کې امامت هم درلود او د شرعیاتو د مجلې مدیر هم ؤ. نو پلار یې ورته وویل چې حبیب الرحمانه! بل ځل که له کابل نه راتللې ماته یو جوړه کلوشې درسره راوړه

مولوي صاحب ورته وویل: ښه پلار جانه چې بل ځل راتلم ستا لپاره به کلوشې راوړم. ډېره موده ورو سته چې شهید مولوي صاحب کور ته راغی نو پلار یې د مولوي صاحب مور ته وویل چې حبیب الرحمن ماته څه شی ندي راوړي؟ مور یې ورته وویل چې ستا لپاره خو څه شی ورسره نه ؤ، نو چې کله شپه شوه د کورنۍ نور غړي هم ناست وو، پلار یې د خپلو کلوشو پوښتنه ورنه وکړه. مولوي صاحب غلی شو او د لږ مکث نه یې وروسته په خندا وویل چې پلار جانه ته خو شکر دی ګوزاره دې کېږي، زما د معاش په تمه کېږه مه له موږ سره دومره غریب ملګري دي چې هغوی کورنو ته ځي د لارې کرایه ورسره نه وي، زه خپل معاش کورته نشم راوړلای ځکه چې موږ یې په دعوتي کارونو کې لګوو. نو ځکه مولوي صاحب شهید د مبارزې په لار کې د ځاني قرباني تر څنګ د مالي قربانیو دروازه هم خلاصه کړه.

مولوي حبیب الرحمن او د هغه د مبارزې ملګرو په دغه اغزنه لار تګ او د دې لپاره کاوه، ترڅو هېواد له ناخوالو وژغوري، د دین دښمنه ډلو مخه ونیسي او

د پردیو او د بې‌دینۍ کوم سیلاب چې په دې هیواد را روان ؤ د هغه مخه ډب کړي

شـــهید حبیب الرحمن به خپلو ملګرو ته دا خبره ډېره کوله چې د مســـلمان لپاره د دنیا ژوند د آرام ځای نه دی، په دنیا کې د اســـلام د سرلوړۍ لپاره دومره ځانونه ستړي کړي چې په قبر کې آرام وکړي. مولوي صـاحب حبیب الرحمن په دعوتي مبارزه کې دومره سرګردانه ؤ چې کله نوموړی له پوهنتون نه فارغ شـــو، د کورنۍ له خوا چې به ده ته د واده یا نکاح کولو یادونه وشـــوه، نو مولوي صـــاحب به د کورنۍ دغه د واده وړاندیز په کله رداوه او ویل به یې چې زموږ وطن ته د یو لوی سور سېلاب د راتګ خطر دی او موږ پاڅېدلي یو چې د دغه سور سېلاب مخه ونیســـو چې خپل خلک او وطن تربنه و ژغورو چې په دې لاره کې ډېر کړاوونه او خنډونه موجود دي او دا کار د سر، مال او وخت او هر څه قربانۍ غواړي، ترڅو هیواد مو د پردیو له دسیسو په امان کې شي.

مولوي صاحب حبیب الرحمن سره د اسلامي نهضت د مبـارزې پـه دې اغزنـه لاره کې د نوموړي ټولـه کورنۍ ملګرې شـــوه چې کله د اســـلامي نهضـــت مشرـان د نهضـــت د غړو سره هجرت کولو مجبور شـــول، مولوي صـــاحب سره یې ورونه هر یو عزیز الرحمن او فضـــل الرحمن چې د کابل پوهنتون د حقوقو او ســـیاسي علومو او شرعیاتو د پوهنځیو د څلوم کـال محصـــلین وو او بـل د تره زوی یې ګـل الرحمن چې له دولسم ټولګي څخه نوی فارغ شوی ؤ هم ملګري شو.

کله چې د اسلامي نهضت مشرانو د رژیم پر خلاف (۱۳۵۴لمریز) کـال د نظـامي عملیـاتو او پـاڅون پرېکړه وکړه، هر څوک خپلو خپلو ولایتونو ته تلل. مولوي صـــاحب له خپلو ملګرو سره لغمان ته تللو ورته وویل شـــول چې ته خو لغمان ته ځې خو ورونه دې له ځان سره مه ملګري کوه. مولوي صـاحب ورته په ځواب کې وویل چې که دغه لار ښـــه وي، زما ورونه تر بل هر چانه وړاندې باید قربانۍ ته ودانګي. هماغه ؤ چې ورونه او یو د تره زوی یې له ځان سره ملګري کړل. عملیات تر سره شول د مولوي صاحب په ګډون یو ورور فضـــل الرحمن او د تره زوی یې له نورو ملګرو سره یو ځای د لغمان په مختلفو ځایونو کې ونیول شـــول او عزیز الرحمن د نهضـــت له دوو نورور ملګرو سره هر یو غلام دســـتګیر مشـــهور په صـــایم صـــیب او هارون چې په حاجي ولایت خان مشـــهور ؤ، په هجرت کولو بریالي شـــول چې عزیز الرحمن په پېښـــور کې په یوه ټرافیکي پېښـــه کې په شـــهادت و رسـېد او مولوي حبیب الرحمن شـــهید د اســـلامي نهضـــت د دوو نورور مشرـانو هر یو ډاکټر محمد عمر او خواجه محفوظ منصـــور سره د کابل په دهمزنـګ زنـدان کې تر بنـد تېرولو وروســـتـه پـه شهادت ورسول شول او بل ورور یې فضل الرحمن او د تره زوی یې ګل الرحمن په دهمزنګ زندان کې د نهضـــت لـه نورو غړو سره زنـداني شـــول چې د کمونستي کودتانه وروسته پلچرخي زندان ته انتقال او نورو زرګونو هېوادوالو سره د پلیګون په دښته کې د کمونستانو له خوا تر خاورو لاندې شول.

د یادولو ده چې د کمونســـتانو په دوره کې د مولوي صـــاحب شـــهید د کورنۍ نور غړي هر یو اســـتاذ عبدالرحمن الینګاری چې د مولوي صـــاحب تره ؤ، حاجي صاحب عبدالغفار چې د مولوي صاحب ماما ؤ او مولوي میاګل جان چې د مولوي صـاحب د خاله زوی ؤ، هم د هغو کســـانو پـه ډلـه کې وو چې پـه پلچرخي کې زنداني او وروسته تر خاورو لاندې او په شهادت و رسول شول .

مولوي حبیب الرحمن د اســـلامي نهضـــت د مبارزې په لاره کې داســـې قرباني ورکړه چې د کورنۍ ټول لوســـتي او تحصـیل یافته ثمر ته رسـېدلي ځوانان او د کورنۍ نور غړي یې په دې لار کې ورسره قرباني شول. .

مولوي صاحب حبیب الرحمن، عزیز الرحمن، فضل الرحمن د خپـل پلار درې زامن ول چې درې واړو ودونه نه وو کړي نو چې دوی شـــهیدان شـــول یو سپین ږیری پلار او زړه مور یې او یوه خور بي بي یې په کور کې پرېښـــودل چې د کور دروازه یې په دې خلاصه وه.

د مولوي صـــاحب پلار، مور او خور چې له دوی نه وروسته په کور کې پاتې شول تر هغې چې یو په بل پســـې وفات شـــول د خپلو شـــهیدانو په مظلومانه شهادت یې زړونه سخت دردېدلي وو، په داسې حال کې چې جنازې یې ورته کورته رانه وړل شـــوې او قبرونه یې معلوم نه شـــول، د ژوند پاتې شـــپې او ورځې یې په پوره صـــبر زغم او د الله جل جلاله په عبادت کې تېرې کړې.

زما هغه شېبه هم په یاد ده چې کله د مولوي صاحب مور د مولوي صـاحب او د فضـل الرحمن او د کورنۍ د نورور غړو د شـــهادت درد تېر کړ نو په دې تمه وه چې عزیز الرحمن زوی یې په پېښـــور کې دی او د نهضـــت له نورور ملګرو سره یو ځای شـــوی او ژوندی دی، کله چې په لومړي ځل مجاهدین زموږ کلي او منطقې ته دا خل شـــول، تر دې وخت پورې به د کورنۍ هغو غړو چې د عزیز الرحمن له شـــهادت نه خبر وو د هغـه مور او پلار تـه یې د عزیزالرحمن د مرګ په اړه څه نه ویل، تر دې چې مجاهدین سیمې تـه راغلـل، مور بي بي پـه تکرار د عزیز الرحمن پوښتنه کوله چې به کله راځي، تر ډېر ځنډ وروسته یې مور د عزیزالرحمن زوی له شـــهادت نه هم خبره شوه.

دغه درېدلې مور او پلار نور زامن او لمسیان نه لري، ځکه چې زامنو یې ودونه نه وو کړي، د غه مظلوم والدین تر هغې چې ورته یو په بل پســـې مرګ راغی د ژوند تر پایه یې د خدمت کولو شرف او ویاړ موږ درلود، ځکه چې موږ هم د پلار نه یتیمان پاتې وو، زموږ پلار هم شهید شوی ؤ.

موږ به د مولوي صـــاحب پر پلار چې زموږ خوږ او مهربان تره ؤ، د خپل پلار مینه په ده او په مرحوم حاجي عبدالحنان کاکا چې زموږ بل تره ؤ او د شهید ګل الرحمن پلار ؤ ماتوله او دوی به د زامنو ناز په موږ کاوه.

د مولوي صـــاحب شـــهید پلار او مور پاتې ژوند په داســـې حال کې تېر کړ چې د زامنو د خوښـــۍ او ودونو مراســـم یې نه لیدل او نه یې په غېږو کې لمســـیانو لوبې وکړې چې د زامنو مینه یې پرې ماته شـــوې وای. هغه کور چې د دوی په ژوند کې به د قرآن کریم د تلاوت غږونه ترې اور پدل کېدل اوس پکې خاموشي ده، هغو خونو کې چې د شپې له خوا به رڼا ګانې په کې بلې وې اوس په هغه کور کې تیاره ده رڼا ګانې نه ښـــکاري او هغه دروازې چې د دوی په ژوند خلاصې وې اوس هغه دروازې تړل شوي دي، خو د د سرښـندنې دروازې یې داسې خلاصې کړې چې سره شوروي یې د تاریخ یوه برخه وګرځوله.

نگاهی گذرا به کارکردهای

جمعیت اصلاح،

درکمتراز یک‌ونیم دهه‌ی گذشته

عبدالظاهر حمیدی

بعد از سقوط نظام طالبان و به میان آمدن اداره‌ی جدید و همزمان با آغاز دور جدیدی از آزادی‌های سیاسی و مدنی در کشور، افراد و گروه های زیادی در صدد آن شدند، تا به نوعی در صحنه حضور داشته وفعالیتی ازخودنشان دهند. به همین دلیل، نهادهای زیادی آغاز به کار نمودند که تعداد آنها، ازجانب کشورهای معین تشویق و غرض متابعت اوامر شان، استخدام شدند و این عده از نهاد ها و سازمان ها، بودجه های هنگفتی نیز از منابع مختلف دریافت می‌کردند.

اما در این میان تعداد دیگری هم صادقانه و تنها به منظور سهم گیری در آبادانی کشور، به گونه‌ی خودجوش وارد عمل شدند که از آن جمله می توان از جمعیت اصلاح افغانستان یاد آوری کرد.

جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان، در تابستان سال ۱۳۸۲ هـ.ش - از شهر کابل کار وفعالیت خویش را با همت بلند عده‌ی از جوانان، استادان پوهنتون‌ها و قشر تعلیم یافته‌ی جامعه، غرض خدمت به کشور وسهم گیری در انکشاف مادی و معنوی کشور، آغازنمود.

اولین کار جمعیت اصلاح، با خدمات تعلیمی آغاز گردید. در ابتداء کانون آموزشی مستقبل و درضمن آن مجله‌ی اصلاح ملی، از دو فعالیت عمده‌ی این سازمان شمرده می شدند. اما به فضل الهی با گام های هرچند اهسته آهسته ولی مفید ومؤثر، قدم به جلو گذاشته واینک بعد از ۱۴ سال، یکی از قوی ترین جریان‌ها و سازمان‌های مطرح، خدمت گذار وقابل افتخار در افغانستان شمرده می شود.

امروز هر جوان تحصیل کرده و با هدف، با این جریان آشنا و هر سیاستمدار کشور ازاین جریان شناخت کافی و نسبت به آن باورمندی قوی دارد. هر هموطن عزیز ما عقیده دارد که، کار و فعالیت جمعیت اصلاح، بر پایه‌ی اخلاص استوار است و همیشه در خدمت هموطنان ستمیده بوده و است. امروز هر فردی ازین مرزو بوم، می داند که تنها جریانی که اسلامی و افغانی می اندیشد و دلسوزانه قدم می بردارد، همین جریان است.

اگر نظرکوتاهی به خدمات و فعالیت های این جریان داشته باشیم و آن را با سایر جریان‌ها وحتی احزاب بزرگ مقایسه نماییم، مشاهده می کنیم که، جزعده‌ای از مردم حسود وکینه توز، اکثریت ملت ومردم از آن سپاس گزاری می‌نمایند.

عرصه‌های فعالیت جمعیت اصلاح :

- **عرصه‌ی تعلیمی وتربیتی:**

چنانچه قبلاً اشاره شد، جمعیت اصلاح، با تأسیس کانون آموزشی مستقبل کارش را آغاز نموده، که علاوه بر درس های از قرانکریم؛ عقاید و مسایل فقهی، ریاضیات ومضامین ساینس و همچنان، زبانهای: عربی و انگلیسی نیز، در آن تدریس می گردید که به توفیق الله متعال، تعداد زیادی از جوانان با درک مؤثریت برنامه های آموزشی، به این کانون علمی روی آوردند وسرانجام یکی ازنتایج آن، این شد تاجمعیت اصلاح، روی ایجاد بخش مستقل تعلیمی، فکر کند و با ایجاد کورس ها و مکاتب خصوصی و مدارس دینی، برای تقویه‌ی ارزش های تعلیمی و تربیتی در جامعه، کوشا باشد که اکنون الحمد لله هزارها تن از شاگردان، اعم از اناث و ذکور، در بخشهای مختلف تعلیمی وتربیتی جمعیت اصلاح در نقاط مختلف کشور، مصروف فراگیری علوم میباشند. به این ترتیب جمعیت اصلاح با گشودن دری از درهای علم و معرفت، به رخ اولاد کشور، خدمات ارزنده و قابل ستایشی را به جامعه تقدیم نموده است.

اگر این کار جمعیت اصلاح را با کارکرد های سایر سازمان‌ها که در کشور فن گرفتند و با امکانات و وسایل فراوانی به کار پرداختند، مقایسه کنیم، اصلاً قابل مقاسیه نیست. زیرا؛ آن‌ها با همه توانمندی‌های مادی هنوز هم عقب مانده اند.

عرصه‌ی فرهنگی ونشراتی:

جمعیت اصلاح، با شعار«اصلاح فرد، خانواده و جامعه» کار خویش را آغاز نمود و نخستین نشریه‌ی که ازطریق آن خواست پیام اصلاح گر خویش را به مردم برساند،«مجله اصلاح ملی» بود.

اصلاح ملی، درمسیر راه دعوتی خویش در این ۱۴ سال، با پیام رسانی صادقانه و مخلصانه، به مبارزه پرداخت و با ارایه‌ی مطالب در همه زمینه های، چون: اجتماعی ، اقتصادی ، سیاسی ، فرهنگی و خانواده‌گی، در راه حفظ ارزش‌های اسلامی و ملی، گام برداشت و در تنویر اذهان جوانان و مردم خویش، کارنمود.

همچنان در این مدت، با استفاده از فضای باز آزادی مطبوعات، جریان‌ها و اشخاص برای کسب امتیاز رسانه های چاپی، صوتی وتصویری شتافتند، اما در این میان رسانه های جمعیت اصلاح ازهمه رسالت‌مندتر درخشیدند. البته، کار رسانه‌ای جمعیت اصلاح، محدود به اصلاح ملی نبوده و در کنار آن، به صدها جلد کتاب های مفید ترجمه و چاپ گردید؛ رادیو صدای اصلاح، با پخش برنامه‌های خویش، درقلب مردم جا گرفت؛ اصلاح

پرودکشن با تولید« سی دی» و«دی وی دی‌ها»ی مفید، خلای موجود در زمینه‌ی مواد فرهنگی مناسب و سودمند را تاحدی پرنمود. سایت انترنتی اصلاح‌آنلاین و شبکه‌های اجتماعی، وسیله‌ی دیگری بودند که توانستند درامر آشنایی جوانان با ارزش‌های دینی ما را یاری رسانیده و آنها را بسوی التزام به ارزش ها تشویق نمایند.

با آنهم درمقایسه با سائرجریان‌ها، با وجود اینکه همه امکانات جمعیت اصلاح از طرف ملت و مردم تامین گریده و جوانان مخلص و وفادار این سازمان، با توکل به پروردگار همه مشکلات را تحمل نموده، کار خویش را شب و روز به خوبی به پیش برده اند که نظیر آن در میان جریان‌های دیگر، مشاهده نمی شود.

عرصه‌ی خدمات اجتماعی و مردمی:

جمعیت اصلاح، کار خدماتی خویش را از تنظیف مساجد آغازنمود وبه کوچه و شهر رسید تا سرانجام یکی از تابستان‌ها که سیلاب خطرناکی مردم سروبی ولایت کابل را در ماه مبارک رمضان متضرر ساخت، جمعیت اصلاح، با استفاده از رادیو صدای اصلاح کابل، به مردم شریف کابل و باشنده‌گان شهر، پیام داد تا به کمک این سیلاب زده‌گان بشتابند. این پیام، با استقبال گرم مردم روبروشد که در نتیجه‌ی آن، ۱۵۰ خانواده‌ی که همه چیز خویش را در اثر سیلاب ها از دست داده بودند، بهترین بسته های کمکی از قبیل: لوازم پخت‌وپز، کمپل و دوشک را بدست آوردند که از کمک‌های همین هموطنان ما تهیه گردیده بود و در کنار آن، بخش دکتوران جمعیت اصلاح، ایام عید خود را با کلینک‌های سیار شان در کنار مردم شریف خویش در مربوطات ولسوالی سروبی سپری نمودند.

هنگامی‌که ولایات شمال وشمال‌شرق کشور، با واقعات زلزله و خیزش آب روبرو شدند، بازهم جمعیت اصلاح، با هوادران مخلص خویش، به کمک این مردم شتافت؛ شب ها وروزها درخدمت شان بدون کدام حق الزحمه و مزد مصروف گردیدند و با کمال صداقت خدمت‌گزاری نمودند. این خدمات، علاوه از کمک‌های زمستانی و ماه‌واراست که، از طریق جمعیت اصلاح، با خانواده‌های بی‌بضاعت، در جریان سال صورت می‌گیرد.

عرصه‌ی فکری وتربیتی:

جمعیت اصلاح، در بعد فکری و تربیتی قشر جوان کشور، اعم از ذکور و اناث تلاش نموده و با ارایه‌ی درس‌های مختلف، تدویر ورکشاپ‌ها، کنفرانس‌های علمی، برنامه‌های اجتماعی و آگاهی دهی، در تربیه‌ی فرد؛ خانواده و جامعه‌ی سالم، تلاش نموده است.

جمعیت اصلاح، با همه ناهنجاری‌های که جامعه‌ی افغانی را به حیث یک جامعه‌ی اسلامی تهدید نموده است، مبارزه نموده و امروز جوانان هدفمندی داریم، که وطن‌دوستی و دین‌دوستی از ممیزات بارزشان می‌باشد. امروز، اگر مساجد ما مملو از جوانان است، اگر خواهران ما با حجاب گشت وگذار می نمایند، اگر رسانه‌ها تاحدی برنامه‌های دینی را پخش می کنند و اگر شعایر دینی در بین مردم زنده است، یقیناً در همه‌ی این‌ها کار فکری و فرهنگی جمعیت اصلاح، نقش سازنده‌ی داشته است.

جمعیت اصلاح، با راه اندازی برنامه‌های قرآنی، در ساحات مختلف رابطه‌ی مردم را با قرآن محکم نموده، در تدین وبیداریی مردم، رول مهمی را عهده دار بوده است. جمعیت اصلاح، برعلاوه‌ی خدمات دینی، از همه ارزش‌های دینی دفاع نموده و علیه همه انحرافات عقیدوی، دینی و اجتماعی که درتقابل با شعایر اسلامی قرار داشته، مبارزه نموده است.

از جمله ایستادگی دربرابر تلاش مذبوحانه‌ی تعدادی‌که می‌خواستند، ترجمه ی تحریف شده‌ی قرآن را به زبان فارسی درکشور پخش نمایند، همچنان تعداد دیگری که تلاش داشتند مردم را به دین ستیزی و فرار از دین تشویق کنند و با نوشته های کفر آمیز خویش، در راستای به انحراف کشاندن نسل نو فعالیت نمایند، و یا هم در پی آن بودند، تا قوانین غیر اسلامی را درکشور اسلامی ما جای‌گزین نمایند. جمعیت اصلاح، با تلاش‌های سازنده‌ی خویش در همکاری و همیاری با هموطنان عزیز و دین‌دوست خویش، سد راه این همه برنامه‌های دین ستیز و ویرانگر قرارگرفتند، که لله الحمد این همه تلاش‌ها، باورمندی ملت ومردم را به این جریان دینی واجتماعی، بیش‌تر ازپیش ساخت و امروز، جمعیت اصلاح، به حیث یک مرجع و ارگان قابل اعتماد دربین مردم مطرح می‌باشد.

جمعیت اصلاح، یگانه جریان ملی و افغانی است، که به طرف خودکفایی درحرکت بوده و متکی به مردم خود می‌باشد. پس وظیفه‌ی هر مسلمان هدفمند است تا با پشتی‌بانی از برنامه‌های دعوتی و دینی جمعیت اصلاح افغانستان، درکنار این جریان ملی بوده و در حمل و تقویت ارزش های والای اسلامی وملی با این جریان مساعی مشترک به خرج دهند

د استبداد او استعمار پر ضد د سید جمال الدین افغانی مبارزه

(۳/۳)

دکتور مصباح الله عبدالباقي

د عثماني خلیفه د استبداد پر ضد مبارزه

په پیل کې سید جمال الدین افغان د سلطان عبد الحمید په اړه حسن ظن درلود، او د هغې په سیاسي تفکر او استعداد یې پوره یقین ؤ، او داسې انګیرنه یې درلوده چې که سلطان عبد الحمید د اروپایي استعمار پر ضد ودرېږي او نور اسلامي ملتونه یې حمایت وکړي نو استعمار ته شکست ورکول ممکن دي.

مګر وروسته دې یقین ته ورسیده چې د سلطان عبد الحمید سیاسي پوهه په عثماني خلافت کې د اصلاح، او د آزادي خواهانو پر ضد استعمالېږي، او همدا هغه خلل دی چې اروپایان ترې د خپلو استعماري مقاصدو لپاره استفاده کوي، د همدې امله د خپل بې ساري جرأت په نتیجه کې یوه ورځ سلطان عبد الحمید ته ورغی او ورته یی وویل: زه ددې لپاره راغلی یم چې د هغه بیعت څخه می آزاد کړې چې له تاسره می کړی ؤ، ځکه چې زه د هغه بیعت څخه ګرځیدلی یم، تاسره مې په خلافت بیعت کړی ؤ، او خلیفه وعده خلاف نشي کېدلی).

سره له دې چې سلطان عبد الحمید د سید جمال الدین د خوشحاله کولو کوښښ وکړ، مګر هغه د سلطان په اړه د نقد او تمسخر څخه منع نه شو، یوه ورځ سید جمال الدین افغانی د سلطان سره په ملاقات کې په خپلو تسپو باندې مشغول وه چې اوازونه یې تری ویستل، د سلطان سره د ملاقات نه وروسته ورته وویل شول چې دا کار د سلطان سره د ملاقات د آدابو مخالف دی، نو د تمسخر په شکل یې وویل: سبحان الله! سلطان معظم چې د میلونونو انسانانو په تقدیر باندې لوبې کوي او هېڅ څوک هم نشته چې پرې اعتراض هم وکړي، او دا دهغه حق بولي، آیا جمال الدین ته ددې حق هم نشته چې په خپلو تسپو باندې چې څنګه یې خوښه وي لوبې وکړي!.

دا په ډېره لنډه توګه د خپل وخت د مستبدو حکومتونو پر ضد د سید جمال الدین افغان د ژوند یو څو بېلګې وې، چې په حقیقت کې د هغې د ژوند ټول تصویر نه وړاندې کوي، د هغه د ژوند هره لحظه د شجاعت، بې خوفۍ او د استبداد پر ضد د هغه د مبارزې یوه ښکلې بېلګه ده، خو د مقالې د لمنې د تنګوالي له امله یې دلته وړاندې کول ګران دي.

د استعمار پر ضد د سید مبارزه

د کونړ د سردرو دغه سید زاده د خپل ژوند یوه لویه برخه د استعمار پر ضد په مبارزه کې تېره کړه، دې مبارزې بېلا بېل شکلونه درلودل، غواړم په ډېرو لنډو ټکو کې ددې مبارزې یو تت انځور درنو لوستونکو ته وړاندې کړم.

- **د امت وحدت د استعمار پر ضد د مبارزې لویه وسیله**

د سید جمال الدین افغان تصور دا ؤ چې شرقي ملتونه عموما او اسلامي ملتونه په ځانګړې توګه باید سره یو شي، ددې متعدد اهداف ؤ، ددې اهدافو څخه یو بنسټیز هدف هم د استعمار پر ضد مبارزې او مقاومت ته د امت تیارول ؤ، په دې اړه د هغې لیکنې ډېرې واضح او صریحې دي، د بېلګې په توګه یې دا عبارت لولو، چې پکې وایي: (آیا موږ په دې مطمئن کېدلی شو، حال دا چې موږ مؤمنان یو، او موږ غالب او قوي وو، چې موږ د ذلت او بیچارګۍ سره مخ شو، او زموږ په هېوادونو او ثروتونو هغه څوک مسلط شي چې زموږ د دین پیروان نه دي، زموږ د عنعناتو تابع نه دي، او نه زموږ شریعت ته احترام لري، تر دې چې زموږ په اړه نه د کوم قسم او نه د کوم تعهد خیال ساتي؟ بلکې اصل هدف او همّ وغم یې دا دی چې موږ داسې فناء کړي چې زموږ وطنونه له موږ څخه خالي کړي، او بیا پکښې خپل نسلونه اباد کړي!)

تصور یې دا وه که د مسلمانانو ترمنځ واقعي وحدت او یووالی رامنځ ته شي او یو د بل په غم غمجن شي او یو د بل مرسته وکړي نو د استعمار د ډېرو مشکلاتو څخه خلاصیدلی شي، په دی اړه وایي: (په الله قسم که عثمانیان له دی خبر شي چې د انګریزانود رعیت په زړونو کې دوي څومره معنوي تسلط او احترام لري، او که دا معنوي تسلط دوي په عاقلانه ډول استعمال کړي نو هیڅ کله به د انګریزانو په بې ځایه تصرفاتو او ظالمانه کارونو باندې صبر کولو ته اړ نه شي، او نه به دی ته اړ شي چې د مصر د مسألې (چې هغه په حقیقت کې تر ټولو مهمه عثماني او یا هم اسلامي مسأله ده) او د هغې په څیر نورو مسائلو کې د انګریزانو له پلوه د عثمانی سلطان په حقوقو تجاوز باندې صبر وکړي) له دی عبارت څخه یې اصل هدف دا دی چې باید د مسلمانانو ترمنځ دا ډول د وحدت احساس وجود ولري، تر څو وتوانیږي چې د استعمار په وړاندی د قوي او محکم دریځ خاوندان وي، او که چېرته دا وحدت وجود ونه لري نو بیا دا قوت منځ ته نه راځي.

- **د استعمار پر ضد لیکنی او ویناګانی**

هغه بله وسیله چې سید جمال الدین افغان د استعمار پر ضد تری استفاده کوله هغه د سید لیکنې او ویناګانی وی، ددې لپاره مثال راوړل په

حقیقت کې د هغې د اهمیت د کمولو سره برابر دی، ځکه د سید ټولی لیکنې که هغه په العروة الوثقی مجله کې وی او که ضیاء الخافقین مجله کې وی، او که نوری متفرقه لیکنې وی، هغه ټولی د استعمار پر ضد دي، همدا راز د سید هغه ټولی ویناگانی چې په مصر، ترکیه، هند، ایران او افغانستان کې یې کړي دي دا یې یوه محوري موضوع وه.

- **د استعمار پر ضد د عالمي تنظیم تشکیل**

هغه مجله چې د (العروة الوثقی) په نوم سید جمال الدین د پاریس څخه نشروله، هغه یې په حقیقت کې د هغه سري تنظیم په نوم مسمی کړی وه چې هغې په شرق کې د استعمار پر ضد جوړ کړی وه، او نوم یې ورته (العروة الوثقی) ایښی وه، کله چې په کال ۱۸۸۳م کې پاریس ته ولاړ هلته یې بیلا بیل انقلابي تنظیمونه او مؤثر شخصیتونه او مفکرین راټول کړل ترڅو د العروة الوثقی او نورو ټولنو ترمنځ د استعمار پر ضد یو نړیوال تشکیل رامنځ ته کړي، چې هغه په عین وخت کې د اسلامي امت د وحدت او همغږی لپاره کار هم وکړي.

- **سیاسي هلی ځلی**

سید جمال الدین افغانی د استعمار څخه د خلاصون لپاره د هری و سیلی څخه کار اخیستی، چې په دی کې خبری اتری او سیاسی هلی ځلی هم شامل دي، د بیلگی په توگه کله چې په کال ۱۸۸۳م کې په سوډان کې د مهدي په مشرۍ د انگریزانو پر ضد پاڅون خپل اوج ته ورسیده نو سید جمال الدین افغانی د انگلیسانو د سیاسي شخصیتونو لکه چرچل، سالسبوري، او سر درموند له خوا د سوډان د قضیې په اړه د خبرو اترو لپاره لندن ته وغوښتل شو، هلته خو لومړی ورته د سوډان د حکومت ورکولو وړاندیز وشو، چې د سید له لوری مسترد شو، بیا وروسته تری وغوښتل شو چې د یو هیأت په مشرۍ سوډان ته ولاړ شي، سید دی کار ته تیار شو، او له دی کار څخه یې د خپل هدف ته د رسیدو لپاره د وسیلی په حیث د استفادی اراده وکړه، هغه په دی اړه دا سې وایي: (انگلستان له ما نه وغوښتل چې زه په هغه هیأت کې شامل شم چې په سوډان کې د پاڅون کونکو سره د سولی په اړه د خبرو اترو لپاره یې لیږل غوښتل، په هغه وخت د انگریزانو ټول هم وغم په سوډان کې پاڅون وه، زه هم په زړه کې دی سفر ته ډېر خوشحاله وم، ځکه زما مخ ته ددې سفر له لارې د مصر د مسألی د خدمت لارې پرانستل شوی، او د مصر د مشکل د اسبابو د علاج او هغې ته د انگریزانو د استعمار څخه د خلاصون لارې چارې پرانستل شوی، که دا هیأت سوډان ته تللی وی، نو مصر د انگریزانو د استعمار څخه ازادیدلی شو، خو د مهدي د ناڅاپی مرگ له امله دا هیأت ونه لیږل شو).

- **د استعمار د لاسپوڅو پر ضد مبارزه**

سید جمال الدین افغانی یواځی د استعمار پر ضد په مباشری مبارزی اکتفاء ونه کړه، بلکې د هغه خلکو پر ضد مبارزه د سید د مبارزاتو یو بل میدان وه چې د نوښت، پرمختگ، او پرمخ تللی اسلام په نوم یې خلک د انگریزی استعمار غلامۍ ته رابلل، په دوي کې مشهور شخصیت د هند سر سید احمد خان وه، چې د علي گړ پوهنتون بنسټ ایښودونکې بلل کېږي، سید جمال الدین خپل کتاب (الرد علی الدهریین) یا (د نیچریسم (Naturism) په نظریاتو باندرد) د همدی فکر د رد لپاره لیکلی دی، او د دی کتاب له لارې یې د انگریزانو سره د سر سید احمد خان اړیکې په ډاگه کړي دي.

د سید جمال الدین د رأی سره سم غربي استعمار په اسلامي هېوادونو کې د بیلا بیلو لارو چارو او طریقو نه کار اخیسته تر څو هغه اسلامي شخصیت له منځه یوسي چې د هغې مصدر قرآن کریم دی، او قوت یې په عقیده کې نغښتی دی، ددې ټولو طریقو او وسائلو څخه خطرناکه طریقه دا وه او ده چې د مسلمانانو په عقائدو کې شک رامنځ ته کړي، ترڅو خلک د اسلامي عقیدی پریښودلو ته اړ کړي، له همدی امله یې طبیعي مذهب چې هغه ورته دهریت وایي د انگریزانو یو خطرناکه سلاح بلله، ځکه ددې سلاح په ذریعه انگریزانو کولی شول چې د مسلمانانو د قوت رمز چې وحدت، او په خپله اسلامي عقیده ده له منځه یوسي، له همدی امله یې په دی فکر په ډېر قوت سره نقد وکړ، شاید یواځینی کتاب چې سید د کتاب په حیث لیکلی وي همدا وي.

د استعمار سره د سید جمال الدین ټکر

چونکه سید جمال الدین استعمار د اسلامی نړۍ تر ټولو لوی مرض گاڼه، او په ځانگړی توگه برتانوي استعمار، او په خپل ټول توان یې د هغې پر ضد مبارزی ته ادامه ورکوله، دا په حقیقت کې کوم رد فعل نه وه بلکې یو داسې قناعت وه چې د تفکر او تدبر په نتیجه کې ورته سید رسیدلی وه، مگر ددې ترڅنگ شاید دا هم مؤثر وي چې انگریزي استعمار هم دا تشخیص کړی وه چې سید د هغوي د گټو لپاره تر ټولو لوی خطر دی، له همدی امله یې په هیڅ ځای کې په ارام نه دی پریښې، او همیشه یې د هغې پر ضد دسیسی په لاره اچولی دي، شاید د انگریزانو او سید جمال الدین تر منځ لومړی مواجه او ټکر په افغانستان کې رامنځ ته شو کله چې انگریزانو د محمد اعظم خان پرضد د امیر شیرعلی خان سره مرسته وکړه او هغه د حکومت ته یې سقوط ورکړ چې د سید جمال الدین افغانی په مرسته منځ ته راغلی وه، له دی وروسته چې هر ځای ته سید جمال الدین رسیدلی له هغې څخه دمخه د انگریزانو دسیسی رسیدلي دي، هغه که هند دی، که ایران دی او که مصر، په دی ټولو مناطقو کې سید د انگریزانو له دسیسو سره مخ شوی دی، او دکارونو مخنیوی یې شوی او د استعماري قوتونو له خوا زوریدلی دی.

خلاصه دا چې سید جمال الدین افغانی د غور او فکر نه وروسته دی نتیجی ته رسیدلی وه چې د اسلامي نړۍ د وروسته پاتی والی د لاملونو څخه دوه بنسټیز لاملونه استبداد او استعمار دي، او دی قناعت ته د رسیدلو نه وروسته یې ددې مرضونو د علاج لپاره د هر ډول وسیلی څخه کار اخیستی دی، او په دی لړ کې ورسره هغه مواصفاتو چې سید درلودل (لکه صبر، حوصله، شجاعت، د دنیاوي مال او متاع او مناصبو په اړه د سید بی پروایي) ورسره ډېره مرسته کړی، اوس هم که څوک هغه کارونه کول غواړي چې سید جمال الدین کړی دی نو همدا ډول مواصفات به په ځان کې پیدا کول ورته اړین وي.

اصلاح قلب

هیلی ستانکزی

عن عامر قال سمعت النعمان بن بشیر یقول : سمعت رسول الله صلی الله علیه و سلم یقول (الحلال بین والحرام بین وبینهما مشبهات لا یعلمها کثیر من الناس فمن اتقی المشبها استبرأ لدینه وعرضه ومن وقع في الشبهات کراع یرعی حول الحمی أوشك أن یواقعه ألا وإن لکل ملك حمی ألا وإن حمی الله في أرضه محارمه ألا وإن في الجسد مضغة إذا صلحت صلح الجسد کله وإذا فسدت فسد الجسد کله ألا وهي القلب) بخاري: کتاب الایمان, باب فضل من استبرا لدینه

این حدیث را بسیاری ازمحدثین وعلما، حدیث عظیم پندا شته و حتی بعضی از آنها می گویند که همه هست وبود اسلام، به آن پیوندخورده است و بعضی هم گفته اند که این حدیث از جمله احادیثی است که مبنای اسلام برآن قائم شده است.

این حدیث دو بخش دارد؛ بخش اول درباره حلال، حرام و مشتبهات و بخش دوم درمورد قلب (دل) بحث کرده است. ما درینجا به لحاظ اهمیت بحث، بخش دوم حدیث را به تحلیل می گیریم :

قلب چیست؟

از لفظ حدیث برمی آید که در جسد انسان یک قطعه گوشتی بنام قلب موجود است وابعاد مختلف شخصیت انسان به همین قلب وابسته بوده ومرکز عقل، شعور، احساس و فکرمی باشد. این موضوع ، را قرآنکریم چنین بیان می دارد: ل«هُمْ قُلُوبٌ لَا یَفْقَهُونَ بِهَا{الاعراف ۱۷۹}

و درجای دگرچنین میفرماید: أَفَلَا یَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا {محمد: ۲٤}

گاهی واژه قلب، به معنای خواهشات نیزبه کار رفته است واین خواهشات هم می توانند دنیوی با شند وهم ازخواهشات اخروی واعلی انسانی ومرکز این خواهشات هم قلب می باشد. همینگونه، احساسات انسانی چون شفقت، نرمی، محبت، نفرت و قهر، ازمرکزوجود (قلب) منشأ گرفته وممیزه بزرگ انسانی (اراده ونیت) که انسان را هویت انسانی می بخشد به فرمان مستقیم همین قطعه ی گوشت (قلب) برخورداراست.

بنابرین، اگر دست و پای کسی قطع شود و تمام اعضای اواز کار بیفتد تنها چیزی که مبین شخصیت انسان است (قلب) باقی می ماند.

دیدگاه ساینس در رابطه به قلب ، همان یک قطعه گوشتی است که تنها خون را پمپ میکند و مرکز فکر انسان اعصاب است. اما؛ قرآنکریم این کلمه (قلب)را به مفهوم عام آن به کاربرده است که درمواردی ماهم بصورت اصطلاحی میگوییم که دلم می خواهد ویا دلم می گوید. حتا ازهمین کاربرد اصطلاحی ما نیزبرمی آید که دل (قلب) بوده ومنبع اراده وشعور وحتا احساسات وعواطف انسان است. واما در رابطه به جسد:

جسد چیست؟

مراد از جسد جسم انسان است. محدثین میگویند: «جسم حیثیت رعیت را دارد و قلب حیثیت پاد شاه را چنانکه رعیت تابع پادشاه میباشد همانگونه جسم (دست، چشم، پا و همه اعضاء) تابع قلب اند».

دست چیزی را بدست می آورد که قلب بخواهد.

چشم چیزی را می بیند که قلب بخواهد.

پا بطرف چیزی می رود که قلب بخواهد.

فساد اجتماعی که در یک قوم پدید ویا انسان اگرمرتکب گناهی می شود ، همه دراثرخرابی قلب اتفاق می افتد. پس ازین رو می توان گفت که حدیث متذکره یگانه راه اصلاح قلب می باشد. اگر قلب اصلاح شد، تمام اعضای بدن اصلاح می گردد و قوت اطاعت شریعت در آن به وجود می آید. واما اگر در آن قطعه ی گوشت (قلب) فسادی پدیدآمد ، آنگاه شریعت تنها در کتابها باقی خواهد ماند وبرآن عمل نخواهدشد.

مراد از واژه اصلاح که در حدیث آمده است ،هر نوع اصلاح بوده وازواژه فساد نیز هر نوع فساد تعبیرمی شود. این استنباط هرنوع اصلاح وفساد ازحدیث ازین رو می تواند صورت گیرد که در حدیث نوع اصلاح وفساد بگونه ی مشخص، تعریف وتعیین نگردیده است.

قرآن می فرماید که ریشه ی مرض در قلب است: فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ{الحج: ٤٦}

و همچنان قرآن مرکز تقوی و ایمان را هم قلب می داند : وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ {الحجرات:۷}

اکنون به بخش نخست حدیث می آییم : آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) در آغاز می فرمایند که حلال وحرام واضح است و در حدیث واژه«بیِّن» آمده است یعنی آنقدر واضح و روشن است که انسان به فطرت خود خوبی حلال و بدی حرام را بداند.

در حدیث آمده که بین حلال و حرام اموریست که «لا یعلمهن کثیر من الناس» یعنی بسیاری از مردم آنرا نمی دانند.

شبه چیست؟

این پرسشی است خیلی مهم، شبه به چیزهای گفته می شود که از قرآن وسنت دلایل آن بگونه واضح معلوم نگردد و یا در چیزهای که اختلاف وجود داشته باشد. نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) می فرماید: کسی که خود را از شبهات نگهدارد ، او دین خود را از لحاظ شریعت نگهدا شته واو را حفظ کرد.

دین مگرچگونه حفظ میشود؟

به این معنا که اگرشخصی به سوی متشبهات می رود سرانجام در حرام می افتد. چگونه؟

نظر به دو وجه اساسی:

نخست: شخصی که به دنبال یک چیز مشبه بیفتد و بگوید این یک چیز کوچک است، روز دیگر به چیزهای مشکوک بیشتری برمی خورد و درنتیجه کوشش به این می کند که حرام را حلال ثابت کند وحلال را حرام.

دوم: در طبیعت انسان سستی پیدا میشود. طبیعت که باید چست وچالاک باشد که مبادا چیزی را انجام دهد و در آن نارضایتی الله جل جلاله باشد. به انجام متشبهات ، درطبیعت انسان سستی پیدا می شود وتاجای که انسان مرتکب حرام میشود.

ارتباط این دوبخش حدیث باهم :

اگر در قلب ایمان و احساس باشد و کیفیت و استعداد باشد، پس شریعت که حلال و حرام را مقرر کرده باید پابند آن باشیم و اگر این نور(ایمان) نباشد ، پس همه احکام درکتابها نوشته خواهد ماندو بس ، هرکس آن را اگر بشنا سد هم عملی به آن نمی کند. درنهایت باید بدانیم که

قلب چگونه اصلاح میشود؟

نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) می فر ما ید: کثرة ذکر الموت و تلاوة القرآن.

(بسیار به یاد آوردن مرگ و تلاوت قرآن). راهیست برای اصلاح قلب.

د هغه مال د خرڅولو حکم

چې انسان بې څښتن نه وي

فضل الله ممتاز

د لوستونکو او مینه والو څخه د یو تن پوښتنه دا وه چې: د هغه مال د خرڅلاو حکم به څه وي چې انسان د هغه حقیقي مالک او څښتن نه وي؟

نو د دغه قدرمن پوښتونکي د پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې علماؤ په دې اړه فرمایلي دي:

یو انسان ته دا روا نه ده چې یو معین مال، لکه: ځمکه او د خرڅلاؤ کوم بل شی پر نورو باندې وپلوري چې دی بې مالک نه وي، مگر په دې شرط چې نوموړې شخص بې حقیقي څښتن او واکمن وي، ځکه د بشریت ستر لارښود جناب رسول کریم (صلی الله علیه وسلم) حکیم بن حزام (رضي الله عنه) ته داسې وفرمایل: ((لا تبعْ ما لیسَ عندک)). رواهُ أبو داؤد في سننه .

ترجمه: هغه مال چې له تا سره نه وي مه یې خرڅوه.

یو ځل نوموړي صحابي نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ته د دې مسئلې په اړه یادونه وکړه، او ورته بې وفرمایل: یو تن راځي او له نوموړي څخه د یو داسې مال په اړه پوښتنه او غوښتنه کوي چې له ده سره نه وي، نو اوس که بازار ته ولاړ شي او له بازار څخه هغه شخص ته د هغه د خوښې سره سم ورته راونیسي، نو د همدغې پوښتنې په ځواب کې ورته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ((لا تبعْ ما لیسَ عندک)). رواهُ أبو داؤد في سننه.

نو تا ته د یو داسې کار تر سره کول هیڅ روا نه دي، او دا له دې کبله چې اصحابُ السنن یو بل حدیث شریف چې شیخ الباني (رحمهُ الله) هم صحیح ګڼلی دی او له حکیم بن حزام (رضي الله تعالی عنه) څخه روایت شوېدی چې په هغې کې فرمایي: زه رسول کریم (صلی الله علیه وسلم) ته ورغلم، او ورته مې وفرمایل: یو تن ما ته راځي او له ما څخه د یو داسې مال په اړه پوښتنه کوي چې زه بې څښتن نه یم، آیا ما ته دا روا دي چې له بازار څخه بې ورته را ونیسم، تر څو پر دغه شخص بې وپلورم؟

نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل:هغه مال چې ته بې مالک او څښتن نه بې هغه مه خرڅوه.

دلته یوه بله مهمه ققهي مسئله د یادولو وړ ده چې په فقهي اصطلاح کې ورته (سمسار) وایي ا و د هغې صورت حال داسې دی: که چېرې یو دریم ګړې شخص یا هغه تن چې د مال د خاوند او د اخستونکي تر منځ جوړجاړی او منځګړیتوب کوي، که چېرې د مال څښتن ته راشي، او د هغه له لوري ور ته یو لړ ټاکلی مزد وروسته له یو لړ همغږی او توافق څخه هم وټاکل شي، او بیا ورته مثلاً ووایي: زما دا مال په فلاني اندازه باندې وپلوره، او هر څومره ګټه چې له دې زیاته شوه، هغه دې ستا وي، چې دا کار بیا په دې صورت کې دغه دریم ګړې شخص ته روا دی.

والله اعلم

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعار ما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت در کشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943